بُست پوهنتون

اقتصاد پوهنځی ریاست

اداره او تجارت څانګه

# د اداره او تجارت څانګې د ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان کلني د څار راپور

کال: ۱۴۰۳

## د مطالبو فهرست


| موضوع | پاڼه |
|---|---|
| 1.د پیل خبري. | 1 |
| 2.د راپور غورچاڼ | 1 |
| 3.جزياتي راپور | 2 |
| 4.نیمګړتیاوي، لاسته راوړني او وړاندیزونه | 5 |

## 1. د پیل خبري

اداره او تجارت ځانګې په ۱۴۰۱ کال کې د لومړي ځل لپاره خپل ستراتیژیک پلان چمتو کړ چې په کښې د لوړو زده کړو وزارت، بُست پوهنتون او اقتصاد پوهنځی د اکاډمیکو ارزښتونو او موخو ته په کتو د زیربنا، علمي څیړنو، ښه حکومتولۍ او ټولني سره مرستي مقاصدو ته په کتو سره 15 بیلابیل پروګرامونه د پنځو کلونو لپاره پلان سوي دي. نوموړی پلان د ستراتیژیک پلان د معیارونو مطابق د رښتیني مالوماتو او پلټونو پر بنسټ چمتو سوی چې د ۱۴۰۱ څخه تر ۱۴۰۵ پوري به د اهدافو د تحقق لپاره په لار واچول سي.

د ۱۴۰۳ کال په جریان کې د اداره او تجارت ځانګې او ستراتیژیک پلان کمیټې له لوري دریې تنه هئتانو ته د نوموړي ستراتیژیک پلان پر بنسټ د ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان د د ربعواره د تطبیق څخه د څار دنده ورکړل سوه چې نوموړي هئیت خپله دنده په بریالیتوب سره پای ته ورسوله او د ا داره او تجارت ځانګې د تطبیقي پلان د څار راپور د اقتصاد پوهنځی محترم ریاست ته په لاندي ډول وړاندي کیږي.

## 2. د راپورغورچاڼ

A. د ۱۴۰۳ کال د تطبیقي پلان کې ټولټال ۱۲ بیلابیل پروګرامونه پلان سوي چې له دي جملي څخه ډیرو ته یې د عمل جامه ور اغوستل سوي ده او ځني یې د عملي کیدو په حال کې دي.

B. په تیر ۱۴۰۳ کال کې د کفیت تضمین د دریم پړاو د ازوونو څخه تیریدل او د علمي اعتبار په بریالیتوب سره واخستل سو او د بعدي ارزونو لپاره ټول اړین اسنادونه چمتو او اړوند ادارو ته لیږل شوي.

C. له (۱۲) پروګرامونو څخه (۱۱) پروګرامونه د تیر کال په جریان کې عملي سوي، او د نورو پروګرامونو د عملي کیدو لپاره هڅې رواني دي.

D. ځانګه د اهدافو د لاسته راوړلو حالت لوړی دی او هغه فعالیتونه چې تر اوسه ندي عملي سوي عمده علت نه مساعد شرایط او د کارونو لوړ دی.

E. دا چي د ځانګې بودیجه د پوهنځی او پوهنتون د مرکزي بودیجې یوه برخه ده او ځانګړې بودیجه نه لري، نو د پروګرامونو مصارف د پوهنځی او پوهنتون له خوا د نورو برخو سره په مجموعي ډول تادیه سوي او ځکه نو د هر پروګرام د بودیجې د مصرف دقیقه سلنه په لاس راوړل ګران وه.

F. د سکالرشیفونو تر تیب کول، عواید موندونکو پروګرامونو برخه کې او د کمیټو د ایجاد په برخه کې یو لړ موجوده ستونزو اجازه نده کړی چی تر سره سي د د تیر په جریان کې د پام وړ کار ندی سوی.

## 3. جزیاتي راپور

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۳ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمخګک کچه (په سلنه ٪) | د دوهمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د درېمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوي / اضافه سوي / کسرلري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 1 | د علمي ظرفیتونو لوړولو لندمهاله پروګرامونه | د ۱۴۰۳ د حمل څخه تر حوت پورې | هو | 0% | 70% | 0% | 100% | 42.5% | — | — | د اصلاحات اداري سره په موافقه د شپږ ورځني د ظرفیت لوړوني ورکشاف جوړ او د اداره او تجارت څانګې استادانو د ټرېنرانو په توګه ګډون درلودی | د ټرېنرانو کمښت او کاري بوختیاوي | د دایمي ستاف په زیاتولو سره د کاري لوډ کمېدل او د یادو پروګرامونو په دایرولو کې پراختیا راوستل |
| 2 | استادان د ماسترۍ پروګرامونو ته لیږل | د ۱۴۰۳ کال سرطان څخه تر میزان پورې | نه | پدې ربعه کې ندی پلان سوی | 0% | پدې ربعه کې ندی پلان سوی | 0% | 0% | — | — | — | – د شرایطو نه مساعدوالی<br>– د بودیجې کمښت<br>– د دایمي ستاف کمښت<br>– کاري بوختیاوي | — |
| 3 | د اداري تشکیلاتو پراختیا | د ۱۴۰۳ د حمل څخه تر حوت | هو | پدې ربعه کې ندی پلان سوی | 60% | پدې ربعه کې ندی پلان سوی | 100% | 80% | — | — | د دایمي استادانو له جملې دری تنه او د کراردادي استادانو له جملې یو تن استاد مقرر شوی دي | د وړ کاندیدانو کمښت او علاقه نه ښودل | |

## د اداره او تجارت څانګې د تطبیقي پلان د ۱۴۰۳ کال کلنۍ د څارنې راپور

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/فعالیت موده په ۱۴۰۳ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړی ربعې پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د دوهمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د درمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه (په سلنه ٪) | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت (مصرف سوي / اضافه سوي / کسر لري) | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 4 | د څانګې په کچه د کمیټو ایجاد | د ۱۴۰۳ د سنبلې څخه تر قوس | نه | د نظر غوښتنکو د نظرونو پر بنسټ وځنډېدی | د نظر غوښتنکو د نظرونو پر بنسټ وځنډېدی | نظر غوښتونکو د نظرونو په اساس | نده پلان سوي | — | — | — | — | — | — |
| 5 | د اداري کارمندانو د ظرفیتونو لوړوالی | د ۱۴۰۳ کال د جدي څخه تر | هو | په دې ربع کې نه دی پلان سوی | 100% | په دي ربع کې نده پلان شوی | 100% | 100% | — | — | د اصلاحات اداري سره په موافقه د شپږ ورځني د ظرفیت لوړوني ورکشاف جوړ شو د منډلي او spss پروګرام سیمنارونه وراندي شول | د ټرینرانو کمښت او کاري بوختیاوي | د دایمي سټاف په زیاتولو سره د کاري لوړ کمېدل او د یادو پروګرامونو په دایرولو کې پراختیا راوستل |
| 6 | د محصلانو د جذب کمیت زیاتوالی | د ۱۴۰۳ کال حمل څخه تر | هو | په دې ربع کې نه دی پلان سوی | 100% | په دي ربعه کې نده پلان شوي | 50% | 75% | — | — | د تیر په پرتله د نوي محصلینو جلب مخ په زیاتیدو ده. | د پراخې بازارموندنې نه ترسره کېدل، او د محصلینو جذب د سمستر په شروع یعني اوله او دوهمه ربعه کې تر سره کیږي | د زده کړیالانو لپاره بازار موندنه ترسره کول |
| 7 | د محصلانو او فارغانو د مهارتونو د ودې پروګرام | د ۱۴۰۳ کال حمل څخه تر حوت پورې | هو | 0% | 60% | 60% | 70% | 47.5% | — | — | د کندهار پوهنتون له لوري په جوړ سوي سیالي د محصل او استاد کډونه، بیلابیلو ادارو ته محصلین د عملي زده کړو لپاره ولیږل سول | د ټرینرانو کمښت او د هغوی لپاره د مکافاتو نه ځانګړي کول | د دایمي سټاف په زیاتولو سره د کاري لوړ کمېدل او د یادو پروګرامونو په دایرولو کې پراختیا راوستل |

<u>د اداره او تجارت ځانګې د تطبیقي پلان د ۱۴۰۳ کال کلنۍ د څارنې راپور</u>

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۳ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د دوهمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د درېمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د څلورمې ربعې پرمختګ کچه په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت: مصرف سوې / اضافه سوې / کسر لري | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 8 | د سکالرشیفونو او تخفیفونو په موخه | د ۱۴۰۳ کال حمل څخه تر | هو | پدې ربعه کې نهدی پلان سوی | 0% | 30% | 0 | 10% | — | — | په دې برخه کې کومه عمده لاسته راوړنه نه لرو. | د شرایطو نه مساعدوالي او د بودیجې کمښت د دې لامل سول چې دا فعالیت پاته سو | یاد فعالیتونو د تر سره کولو لپاره باید بودیجه ځانګړې شي |
| 9 | په سمیه ایز اقتصاد کې د رول زیاتوالي په موخه | د ۱۴۰۳ کال حمل څخه تر حوت | هو | 0% | 80% | 100% | 50% | 57.5% | — | — | دري ورځنۍ نندارتون جوړ سو او په جوړ سوي نندارتون کې څیړنې تر سره شوي تحلیل سوي او د نشر لپاره لیږل سوي دي | د مالي منابعو کمښت | په راتلونکي کې پروګامونو جوړول او دا خلې محصولاتو د ملاتړ په موخه پانګوونې تر سره کول |
| 10 | د علمي څیړنو پراختیا | د ۱۴۰۳ کال حمل څخه تر حوت | هو | 80% | 80% | 100% | 100% | 90 % | — | — | د تولنې په اقتصاد کې د رول په موخه د د تر سره شوو څیړنه نتیجه ګیرې کول د نشر لپاره ولیږل شوي | د Supervisor یا لارښونکو کمښت | کوښښ کېږي چې تر په راتلونکو ,وختونو کې د کنفرانس په دائیربدو سره یاد موضوعات وړاندې سئ |
| 11 | عواید موندونکي پروګرامونه | د ۱۴۰۳ کال حمل څخه تر | نه | 0% | 0% | 0% | 0% | 0% | — | — | په دې برخه کې کومه عمده لاسته راوړنه نه لرو. | د اداره او تجارت ځانګې ځینې روزنیز کورسونه پلان کړې خو ترینرانو لپاره کومه معوضه نه سوه اختصاص | — |

د اداره او تجارت څانګې د تطبیقي پلان د ۱۴۰۳ کال کلنۍ د څارنې راپور

| شماره | پروګرام / فعالیت | د پروګرام/ فعالیت موده په ۱۴۰۳ کې | ایا فعالیت/پروګرام پیل سوی یا عملي سوی؟ | د لومړۍ ربعې پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د دوهمې ربعې پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د درېمې ربعې پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د څلورمې ربعې د پرمختګ کچه<br>په سلنه ٪ | د تطبیق عمومي سلنه | د بودیجې وضعیت<br>مصرف سوي<br>اضافه سوي<br>کسرلري | د بودیجې د مصرف سلنه | عمده لاسته راوړنې/ توضیحات | عمده ستونزې او چالشونه | وړاندیز/ تصمیم |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| 12 | د محصلینو لپاره د مسابقې پروګرامونو دایرول | د ۱۴۰۳ کال حمل څخه تر | هو | 0% | 0% | 100% | 70% | 42.5% | ــــ | ــــ | په کندهار پوهنتون کې د جوړې سیالۍ د ګډون په موخه محصلین او استادان ولیږل سول او دوهم مقام یې د زون په سطحه وګټل | د پوهنتونو تر منځ د سیالیو لپاره عمده او کلنۍ پلان نه شتون، د سیالۍ لپاره د اختصاصي بودیجې نه شتون | د شرایط په برابرېدو سره یاد پروګرام دایرول |
| | مجموعي نتیجه | د 1403 کال په څلورمې ربعې په جریان کې | له 10 څخه 8 پروګرامونه پیل سوي | په دې ربع کې اوسط 13.3% سلنه فعالیت تر سره سوی | په دې ربع کې اوسط 50%سلنه فعالیت تر سره سوی | په دې ربع کې اوسط 55.7% سلنه فعالیت تر سره سوی | په دې ربع کې اوسط 80 % سلنه فعالیت تر سره سوی | 49.5% | په مصرف ورسیده او تقریبا خومره چې پلان شوی وه کافي وه | ــــ | د ظرفیت لوړوني په برخه کې شپږ ورځني ورکشاف دایر سو او ګډون والو ته سرټفکیټونه | د شرایطو نه مساعدوالی، د بودیجې کمښت او د دریم پړاو ارزونې په چارو بوختیا | د هرې پاته شوې برخې لپاره د نوي کال په جریان بودیجه ځانګړې کول. |

## 4. نیمګړتیاوې، لاسته راوړنې او وړاندیزونه

### الف: نیمګړتیاوې

I. د دایمي پرسونل کمښت چې د کاري لوړ/فشار سبب سوی.

**II.** د ترینر استادانو کمښت او هغوی ته د پوهنتون له لوري د معوضي نه تخصیص

III. د شرایطو نه مساعدوالی

IV. د بوديجې نه مستقیل والی

## ب: لاسته راوړني

I. د اداره او تجارت ځانګي په ۱۴۰۳ کال کي وکولی شو د کیفیت تضمین تړول اړین اسناد چمتو او کیفیت دریم پړاو یې پاس کړ او د هري ارزوني لپاره یې تړول ترتیب شوي اجناس وړاندې کړي دي

II. د بُست پوهنتون اقتصاد پوهنځي له لوري د هلمند والایت د کرنيزو او صنعتي تولیداتو لپاره یو ننداراتون په لاره اچول شوی. د یاد نندارتون د جوړولو لپاره بست پوهنتون د ریاست له لوري په 1403/7/9 په 124 نمبر پشنهاد په اساس ولایت مقام ته یشنهاد وکړ چي د ولایت مقام د 238 نمبر په اساس یاد پشنهاد قبول کړاو د مربوطه اداراتو مسولین یې د همکاري په موخه امر کړل چي په یاد نندارتون کي د بست سره د خپل وس مطابق همکاري او ملاتړ وکړي ورسته د ولایت د پشنهاد څخه د لوړو زده کړو وزارت هم د همکاري په موخه په 1403/7/23 نیته ۱۴۷ ګنه پشنهاد ولیږل شو چي د لوړو زده کړو وزارت له خوا یاد پشنهاد قبول او تائید شو او د علمي برنامو پراختیا ریاست ته ۴۷۳۰ نمبر حکم په اساس د اصولي اجراااتو په موخه ولیږل شو . د ټولو پړاونو د تی کولو وروسته د بست پوهنتون د له لوري د مربوطه اداراتو او تجارانو ته په رسمي ډول د ګډون بلنلیک ولیږل شو تر څو په یاد نندااتون کي ګډون وکړي. 2024/10/20 تاریخ د بست پوهنتون اقتصاد پوهنځي له لوري د بُست پوهنتون په انګر کي دريّ ورځنۍ څیړنیز نندارتون راپیل شو چي دري ورځې یې دوام وکړ. په یاد نندارتون کي ۵۰ ډوله کرنیز، سوداګریز او صنعتي محصولات په ۳۰ غرفو کي نندارې ته وړاندې شول.جوړشوی نندارتون د درې ورځو لپاره دوام وکړ او د چهارشنبې په ورځ، د اکتوبر په ۲۳مه نیټه پای ته ورسیدي په دې نندارتون کي د هلمند بیلابیل کرنيز او صنعتي محصولات نندارې ته وړاندې شول چي د سکتوري ادارو غړي ، سوداګر، صنعتکاران، محصلین، ځوانان، عام خلک او نور لیدونکي یې جلب کړل.د دې نندارتون موخه د هلمند دکرنیزو اوصنعتي محصولاتو لپاره بازار موندنې ته وده ورکول وو په یاد نندارتون کي د بست پوهنتون اقتصاد پوهنځۍ له لوري په بیلابیلو برخو کي څیړني ترسره شوې چي پکي د محصول کیفیت، بیې، تضمینونه، بسته بندي، تخفیفونه، د ترانسپورت اسانتیاوې، د تولیدي شرکتونو جغرافیایي موقعیت، د محصول د تبلیغ لارې چارې، د کارکوونکو مسلکي توب، ماشین آلات او د بازار موندنې عمومي اغیزمنتیاوي شاملي وو او په ټولیزه توګه د بازارموندنې له نندارتون څخه د لیدونکو د رضایت کچې پر معلوموملو باندي اغیزمني څیړنیز معلومات د یو پوښتنلیک په اساس راټول شول او وروسته به د زیدخل اداراتو ،سوداګرو او صنعت کارانو سره شریک شي. په ټوله کي، یاد نندارتون په بریالي توب سره پای ته ورسیدي ، چې د سیمه ییزو تولیدونکو او متشبثینو لپاره یې ارزښتناکې اړیکي برابرې کړې، په هلمند ولایت کي د اقتصادي امکاناتو په اړه یې پوهاوی لوړ کړ او د محصلینو ګډون ته یې وده ورکړه .د بُست پوهنتون د اقتصاد پوهنځی پلان لري چي دا ډول نوښتونو ته دوام ورکړي، تر څو د اکاډمیکو بنستونو او سیمه ییزو کاروبارونو ترمنځ اړیکي پیاوړې کړي او په سیمه کي اقتصادي ودې لامل شي.

III. په کندهار پوهنتون کي د سهیل لویدیځ زون په سطحه د پالیسي جوړوني سیالي ترتیب شو ي دي چي له جملې څخه یې د هلمند پوهنتون، کندهار پوهنتون، اروزګان د لوړو زده کړو موسسه، زابل د لوړو زده کړو موسسه،دافغانستان ملي پوهنتون،بست پوهنتون،میرویس نیکه پوهنتون، ملالي پوهنتون، سبا د لوړو زده کړو موسسه، لمر د لوړو زده کړو موسسه او بینوا د لوړو زده کړو موسسي ګډون درلودي د یادي سیالي د شروع څخه مخکي د کندهار پوهنتون د اداره عامه پوهنځي د یادي سیالي اړوند د پالیسی جوړولو او تطبیق کولو په اړه دری ورځني ورکشاپ د کندهار پوهنتون په انګړ کي ترتیب کړي وو په یاد ورکشاف کي د ګډون په موخه د کندهار پوهنتون له لوري په ۱۴۰۳/۷/۱۰ نیته د ۱۱۳۵/۱۲۲۷ ګڼه لیک په اساس د بست پوهنتون د اداري څخه د یو تن لارښود استاد او ۷ تنه محصلینو ِد معرفی کیدو ِغوشتنه ورکړه د بست پوهنتون ۱۴۰۳/۸/۵د ۸۷/۲۲۱-۸۹ مکتوب په اساس د غوښتني مطابق یو تن لارښود استاد عبدالقدیر خادم او ۷ تنه محصلین هر یو لګه محمد، ګل احمد، فیض محمد، عبدالحنان اغا، خیرالله، محمد اقبال او شیر اغا معرفي کړل او په یاد ورکشاف کی یی ګډون ، وړاندي شوی ورکشاف چی په ۱۴۰۳/۸/۲۹ سه شنبه پیل چي دري ورخي یي دوام وکړ یعني ۱۴۰۳/۹/۱ پنجشنبه پای ته ورسیده د ورکشاپ په پاي کي د پالیسی لپاره د بست پوهنتون د زده کړیلانو له لوري موضوع انتخاب شوه ،د سیالي په ټاکلي وخت د یعني۱۴۰۳/۹/۱۳ نیټه د بست پوهنتون د ۷ تنه محصلین او رهنما استاد د ګډون په موخه کندهار پوهنتون ته لاړل او په یاده سیالي کي یی ګډون وکړ د طرحي د ارایي

<u>د اداره او تجارت ځانګې د تطبیقي پلان د ۱۴۰۳ کال کلنۍ د څارنې راپور</u>

څخه ورسته د ، بست پوهنتون دوهم او کندهار پوهنتون اول مقام تر لاسه کړو د یادی سیالي کوربه پوهنتون د ټول ګډون کوونکو پوهنتونو محصلینو او استادانو ته ډالي چمتو کړي وی او هر یوه ته یې د خپل مقام او استعداد مطابق تحفي او سوغاتون ورکړل شول، په ټوله کي ترتیب شوی سیالی د ټولو ګډون کوونکو لپاره خوار مهمه او اغیزمنه وه محصلینو وکولی شول د نظري زده کړو تر څنګ عملی زده کړی هم تر لاسه کړي.

IV. د پوهنتون دننه د سیالیو تر سره کولو پروسه راپیل سوه. اقتصاد پوهنځي اداره او تجارت ځانګه پلان لري چي د کمپیوټر ساینس پوهنځي سره د ۲ / ۱ /۱۴۰۴ نیټه د احصایي په مضمون کي یوه رقابتي سیالي تر سره کړي چي د دواړو پوهنځیو لخوا به ورته ژوري هیت وټاکل سي او په ټاکلي نیټه به سیالي د ژوري هیت په حضور کي تر سره شي او پایلي به یي شریکي شي.

V. د ظرفیت لوړوني په برخه کي د اداره او تجارت ځانګي د اصلاحات اداري سره په همکاري یو شپږ ورځني ورکشاف جوړ کړ چی په دي ورکشاف کي د اداره او تجارت ځانګي دریو تنو استادانو لکه محیب الله امیني، ارسلان وطندار، امان الله نیازي د ټرینرانو په شکل په مختلیفو موضوعاتو باندي ورکشاپونه ورکړل سو. د ورکشاپ په پایله کي ټولو ته د ګډون سندونه ورکړل سول.

VI. د اداره او تجارت ځانګي د تشکیلاتو په برخه کي دري تنه دایمي استادان لکه عبدالقدیر خادم، دارو حان صالح، مجتی امین مقرر کړي دي او د دوي څخه د استادانو چارو امریت او د ځانګي په همکاري د مسلک اړوند امتحان واخیستل شو او هر یوه د کامیابي نمره په تر لاسه کولو د کمیتي او هیت په حضور کامیاب علان کړل سول.

VII. د اداره او تجارت ځانګي د تشکیلاتو په برخه کي دوه تنه کادري استادان لکه عبدالقدیر خادم، مجتی امین مقرر کړي دي او د دوي څخه د کندهار پوهنتون د استادانو چارو امریت او د کندهار پوهنتون د اقتصاد پوهنځي د اداره او تجارت ځانګي په همکاري د نړیوالي ژبي او مسلک اړوند امتحان واخیستل شو او هر یوه د کامیابي نمره په تر لاسه کولو د کمیتي او هیت په حضور کامیاب علان کړل سول.

## ج: وړاندیزونه

I. علمي څېړنو او تحقیقاتو په برخه کي د استادانو او محصلینو د تشویق په موخه د ځانګړو امتیازاتو په پام کي نیول.

II. دا چي مالي برخه د پوهنتون له لوري تنظیمېږي نو روزنیزو کورسونو او پروګرامونو د مخته وړلو لپاره د اړوند ټرینرانو لپاره معوضه او مکافات ځانګړي کول.

III. د اداره او تجارت ځانګي په کچه د استادانو/اداري کارمندانو د ظرفیت لوړوني لپاره امکانات او شرایط مساعدول.

IV. نړیوالو او داخلي ژونالو ته د لاسرسي په برخه اداره او تجارت ځانګي استادانو ته باید زمینه برابره سي چي وکولي شی خپلې تر سره شوي څېړني د په ملي او نړیوالو ژونالونو کي خپرې کړي.

**د تطبیقي پلان څخه د څارني هئیت د غړو لاسلیک:**

د هئیت مشر نوم او لاسلیک: **ارسلان وطندار**    د هئیت غړي نوم او لاسلیک: **امان الله نیازی**    د هئیت غړي نوم او لاسلیک: **عبدالقدیر خادم**

<u>د اداره او تجارت ځانګې د تطبیقي پلان د ۱۴۰۳ کال کلنۍ د څارنې راپور</u>

پورته د ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان د دویمې ربعې د څارنې راپور د اداره او تجارت ځانګې په (      ) نمبر جلسه کې په (     /     /۱۴۰۴) نیټه تائید سو.

د اداره او تجارت ځانګې د مسؤل نوم: **عبدالقدیر خادم** لاسلیک: ........................................................ نیټه:

پورته د ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان د څلورمې ربعې د څارنې راپور د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټې په (      ) نمبر جلسه کې په (     /     /۱۴۰۴) نیټه تائید سو.

د ستراتیژیک پلان فرعي کمیټې د مسؤل نوم: **امان الله نیازی** لاسلیک: ........................................................ نیټه:

پورته د ۱۴۰۳ کال تطبیقي پلان د څلورم ربعې د څارنې راپور د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا په (      ) نمبر جلسه کې په (     /     /۱۴۰۴) نیټه تصویب سو.

د اقتصاد پوهنځی د علمي شورا د مسؤل نوم : **امان لله نیازی** لاسلیک: ........................................................ نیټه: د اقتصاد پوهنځی مُهر: